# په خپلو حقونو او مسوولیتونو وپوهیږئ

## ستاسو حقونه

### عادلانه چلند

- په WIC پروګرام کې د ګډون او غوره کیدو شرایط پرته د پوستکي د رنګ، نژاد، ملي مبدا، عمر، معیوبیت او یا جنسیت، ټولو لپاره یو شان تطبیقیږي.
- که چیرې تاسو د WIC پروګرام لپاره د غوره کیدو وړ نه یاست، تاسو به د نه غوره کیدو دلایل په لیکلي بڼه ترلاسه کړئ او تاسو ته به د شکایت د عادلانه اوریدنې د حق په باب معلومات وړاندې شي.

### تاسو به لاندې امتیازات او معلومات ترلاسه کړئ

- WIC امتیازات به تاسو هره میاشت د صحي خوراکي توکو د پیرودلو لپاره د میاشتنۍ بودیجې په توګه ترلاسه کوئ
- د خوراکي رژیم او د مور شیدو ورکولو په باب ګټور معلومات
- د نورو موجوده روغتیایي خدمتونو په باب معلومات (لکه روغتیایي مراقبتونه او واکسین) او د خدمتونو د عرضه کیدو ځایونه
- ددې معلوماتو او نورو خدمتونو د کارولو لپاره تشویق او هڅونه

## ستاسو مسوولیتونه

### هغه خوراکي مواد باید وپیرل شي چې WIC یې مجاز ګڼي

- مهمه ده چې هره میاشت خپل د WIC له امتیازاتو ګټه واخلئ.
- خپل د WIC امتیازات د WIC له مجازو مغازو څخه ترلاسه کړئ.
- هرکله چې د WIC خوراکي موادو پیرودلو لپاره مغازې ته راځئ، WIC کارت له ځانه سره راوړئ.
- یوازې هغه خوراکي مواد واخلئ چې د WIC په چوکاټ کې مجاز ګڼل کیږي.
- خوراکي مواد یوازې په پروګرام کې شامل شخص لپاره واخلئ.

### صادق اوسئ

- د WIC پروګرام کارکوونکو ته د واجدیت شرایط په موخه تل ریښتیني معلومات وړاندې کړئ.
- په عاید، د کورنۍ د غړو د شمیر، د کور ادرس او یا د ټیلفون د شمیرې د بدلیدو په صورت کې، ژر تر ژره رپوټ ورکړئ.
- په MediCal، CalWORKS (TANF) یا CalFresh کې په واجدیت شرایط کې د هرډول بدلون په اړه رپوټ ورکړئ.
- د WIC امتیازات ، خوراکي مواد، د ماشوم شیدې هیڅکله شخصا، یا په آنلاین ډول او یا هم په لیکل شوي بڼه مه خرڅوئ، مه یې تبادله کوئ او هیڅکله ددې کار قصد هم مه کوئ. ددې ډول سرغړونې په پایله کې به تاسو د پروګرام له ګټو محروم شئ.

### مودب او مهربان اوسئ

- د WIC په ټولو ملاقاتونو کې ګډون وکړئ او که چیرې غواړئ د ملاقات وخت بدل کړئ، مخکې له مخه ټیلفون وکړئ.
- ټول غوښتل شوي اسناد WIC ملاقات ته له ځان سره راوړئ.
- د WIC پروګرام له کارکوونکو او د مغازې له پرسونل سره په ادب او مهربانۍ چلند وکړئ.
- د WIC په دفتر او یا هم په مغازه کې هیڅ چا ته ګواښ مه کوئ او یا هم هیڅ چا ته فزیکي تاوان مه رسوئ.

## زه پوهیږم...

- د تصدیق دا فورمه د فدرال مرستو د ترلاسه کولو په تړاو کې وړاندې کیږي. د پروګرام چارواکي به وړاندې شوي معلومات تصدیقوي. زه په دې پوهیږم چې په قصدي ډول د غلطو معلوماتو د وړاندې کولو یا د معلوماتو د غلط تفسیر، د معلوماتو او یا د حقایقو د پټولو په صورت کې به زه اړوندې دولتي اداري ته د ترلاسه شویو مرستو معادل په نغدي ډول بیرته ورکوم او دا کار به د ایالت او فدرال قانون په چوکاټ کې زما د مدني یا جرمي محاکمې لامل کیږي.
- په دوو ځایونو کې په ورته پروګرام کې ګډون کول (په عین وخت کې د WIC له یو څخه ډیرو دفترونو څخه د ګټو او امتیازاتو ترلاسه کول) غیرقانوني کار دي او WIC پروګرام څخه د محرومیدو لامل کیږي.

- که چیرې ماته ویل کیږي چې WIC پروګرام ته واجد شرایط نه یم، دلایل به یې په لیکلې بڼه ترلاسه کوم.
- زه کولی شم د WIC ځایي دفتر د پریکړې په وړاندې د خپل واجدیت شرایط په باب عرض وکړم.
- که چیرې زما د تصدیقنامې وخت مخ په پوره کیدو وي او یا هم که چیرې زه له پروګرام څخه ایستل کیږم، 15 ورځې مخکې به خبرتیا ترلاسه کوم.
- که چیرې زه له بل چا وغواړم چې زما پرځای د WIC اړوندو فعالیتونو کې ګډون وکړي، زه به دا حقونه او مسوولیتونه نوموړي شخص ته توضیح کوم.
- که چیرې بل ځای ته د کډې کولو پلان لرم، زه کولی شم خپل WIC امتیازات بلې سیمې ته انتقال کړم او د WIC ځایي دفتر به د اسنادو د طی مراحل په برخه کې مرسته کوي.

## WIC پروګرام تبعیض نه کوي

د فدرالي مدني حقوقو د قانون او د متحده ایالاتو د کرنې وزارت (USDA) د مدني حقونو مقرراتو او پالیسیو له مخې، USDA، د دې موسسې، دفترونه، او کارمندان، او هغه موسسې چې د USDA په پروګرامونو کې ګډون کوي یا دا تنظیموي، د قوم، رنګ، ملي مبدا، جنس، معیوبیت، عمر یا د مدني حقونو د فعالیت په مخکیني پروګرام یا فعالیت کې د غچ او یا انتقام اخیستلو له کبله، چې د USDA له خوا ترسره کیدو یا تمویل کیدو، پر اساس له تبعیض کولو څخه منع کیږي.

معیوبیت لرونکي کسان چې د پروګرام د معلوماتو لپاره د ارتباط بدیلو وسیلو ته اړتیا لري (لکه، بریلي، غټ چاپ، آډیو ټېپ، د امریکې د اشارې ژبه او داسې نور)، باید له هغه موسسې (ایالتي یا محلي) سره اړیکه ټینګه کړي، کوم ځای چې دوی د امتیازونو لپاره عریضه کړې وي. هغه کسان چې کاڼه دي، په اوریدو کې مشکل لري یا د خبرو معیوبیتونه لري، کولای شي چې د USDA سره د فدرالي ریلې خدمت له لارې په 877-8339 (800) اړیکه ټینګه کړي. سربېره پردې، د پروګرام معلومات د انګلیسۍ پرته په نورو ژبو کې هم وړاندې کیدی شي.

د تبعیض په اړه د شکایت وړاندې کولو لپاره، د USDA پروګرام د تبعیض د شکایت فورمه ، (AD-3027) بشپړه کړئ، چې آنلاین په دې ادرس موجود ده:
http://www.ascr.usda.gov/complaint_filing_cust.html
او د USDA په هر دفتر کې، یا د USDA په ادرس لیک واستوئ او په دغه لیک کې هغه ټول معلومات وړاندې کړئ چې په فورمه کې یې غوښتنه شوې وي. د شکایت د فورمې کاپي د غوښتنې لپاره، 632-9992 (866) ته زنګ ووهئ. USDA ته خپله بشپړه شوې فورمه د لاندې لارې څخه واستوئ:

(1) پوسته

**U.S. Department of Agriculture**
**Office of the Assistant Secretary for Civil Rights**
**1400 Independence Avenue, SW**
**Washington, D.C. 20250-9410;**

(2) فاکس: (202) 690-7442; یا

(3) برېښنالیک: *program.intake@usda.gov*

دا موسسه ورته فرصت وړاندې کوونکي ده.

**ما دا ټول سند لوستی دی. ددې پروګرام په چوکاټ کې ټول حقونه او مسوولیتونه ماته توضیح شوي دي. ټولو پوښتنو ته په پوره قناعت سره ځواب ورکړل شوی دی. زه دا تصدیقوم چې ټول هغه معلومات چې ما وړاندې کړي دي، زما په اند سم او ریښتیني دي.**

د کورنۍ استازي/سرپرست لاسلیک ______ نېټه ______ [Family ID] ______

**Staff Use Only:** ☐ Local agency staff has reviewed the *Know Your Rights and Responsibilities form* with the family representative/caretaker, and any and all questions have been answered to their satisfaction.